صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان



شماره ۸۰
د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د وياند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز
د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: ربيع الاول ۱۷، کال ۱۴۴۷ هجري قمري

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مسلکي ډول د بلخاب ډبرو سکرو کان د استخراج پرانیسته وکړه



۲

# عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د پوهنې وزارت مسئولینو ته لازمي لارښوونې او مهمې توصیې وکړې

بسم الله الرحمن الرحيم

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په کندهار کې د پوهنې وزارت د مسئولینو لپاره په جوړ شوي درې ورځني اصلاحي سمینار کې چې د پوهنې وزیر او یو شمېر نورو علماء کرامو هم پکې برخه اخیستې وه، د سیمینار ګډونوالو ته لازم هدایات او مهمې توصیې وکړې.

په پیل کې عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ټولو مسئولینو د خدمتونو ستاینه وکړه. د علم او د تعلیم او تربیې د ارزښت او ضرورت په اړه یې د قرآن کریم او حدیثونو په رڼا کې تفصیلي وینا وکړه او ویې ویل، په دنیا کې د خیر منابع چې الله جل جلاله خیر ورته ویلي دي، عالم، متعلم او ذاکر دی او هغه څوک چې له دوی سره...

۲

# پیام تسلیت امارت اسلامی در پیوند به شهادت افغان ها و آسیب های ناشی از زلزله اخیر



بسم الله الرحمن الرحيم

با تأثر فراوان شب گذشته در اثر زلزله شدید تعداد زیادی از هموطنان ما در ننگرهار، کنر، لغمان و شمار دیگری از ولایات، شهید، زخمی و آسیب دیدند.

انا لله و انا الیه راجعون

امارت اسلامی مراتب تسلیت و همدردی عمیق خویش را به خانواده‌های داغدار و آسیب‌دیده این رویداد غم‌انگیز ابراز می‌دارد.

از درگاه الله جل جلاله برای شهدا جنت الفردوس، به مجروحین شفای عاجل و به خانواده های ماتم دیده، صبر جمیل و اجر جزیل استدعا داریم...

۲

# مولوي ذبیح الله مجاهد: د ریاست الوزرا مقام لخوا زلزله ځپلو ته د عاجلې رسیدنې په موخه زر لکه افغانۍ ځانګړې شوې دي



په هغه خبري ناسته کې چې د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې ترسره شوه، د افغانستان اسلامي امارت وياند، محترم مولوي ذبيح الله مجاهد د تېرې شپې د زلزلې وروستي جزئيات له رسنيو سره شريک کړل...


۲

# تداوم کمک‌های بین‌المللی به زلزله‌زدگان افغانستان



۵

# د بهرنیو چارو وزیر د زلزله‌ځپلو لپاره د مرستو د جلب په اړه له سیاسي استازولیو سره خبرې وکړې



۵

## د کونړ زلزله او د رسنیو رول

د کونړ وروستۍ زلزلې یو ځل بیا د طبیعي پېښو او د الهي ازموینو پر وړاندې زموږ د خلکو سخت زیانمونکی حالت ثرګند کړ. په داسې سختو شرایطو کې انساني همدردي یوازې یو احساسي غبرګون نه دی، بلکې یو ټولنیز مسؤولیت دی. په داسې حالت کې د رسنیو رول حیاتي او بې بدیله دی. رسنۍ باید نه یوازې د قربانیانو غږ وي، بلکې د کره، بېطرفه او د پوهاوي ورکونکو راپورونو او معلوماتو په وړاندې کولو سره، خلک او مسؤل بنسټونه ځواب ویلو او مرستې ته وهڅوي.
رڼه اطلاع رسونه، د شایعاتو مخنیوی، د خلکو د بیړنیو اړتیاوو انعکاس او د مرستو د وېش پر څرنګوالي څارنه د رسنیو له مهمو دندو څخه شمېرل کېږي. موږ له ټولو رسنیزو بنسټونو غوښتنه کوو چې په دې حساسو شېبو کې په مسئولیت، صداقت او انساني ژمنې سره د زیانمنو خلکو ترڅنګ ودرېږي. د خلکو د درد په اړه چوپتیا او د هېوادوالو د غم پر وړاندې بې تفاوتي د رسنیو رسالت نه دی.
راځئ چې د خواخوږۍ، یووالي او د رسنیو د شعوري رول له لارې، د اغیزمنو خلکو له اوږو څخه بار کم کړو او د یوې مسئولې انساني ټولنې په لور ګام پورته کړو.

مولوي نعیم الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

## سرمقاله

# احصائیه او معلومات؛ د باوري پرېکړو او باثباته پرمختګ بنسټ

احصائیه او معلومات د هر هېواد په تصمیم‌نیولو او سیاست‌ګذارۍ کې بنسټیز او مهم رول لري. کوم هېواد چې غواړي د شفافې حکومتدارۍ، باثباته اقتصاد او ټولنیز عدالت درشل ته ورسېږي، باید لومړی یو قوي احصاییوي سیستم ولري. همدا سیستم حکومت ته دا توان ورکوي چې ملي پروګرامونه په اغېزناک ډول طرح او پلي کړي، د ستونزو رېښې وپېژني، د فرصتونو مدیریت وکړي او د خپلو تګلارو پایلې په ساینسي معیارونو وارزوي.
احصائیه یوازې د ستراتیژیک پلان جوړونې وسیله نه ده، بلکې د خلکو او دولت ترمنځ د باور پُل دی. کله چې معلومات په دوامداره او شفاف ډول خپرېږي، ولس په حکومت باور پیدا کوي او ټولنیز امنیت ټینګېږي. د بحرانونو پر مهال همدا دقیق معلومات د ژوند ژغورنې تر ټولو مهمه وسیله ګرځي؛ له طبیعي پېښو تر ناروغیو او د منابعو تر کمښت پورې.
د احصایې او معلوماتو ملي ادارې کلنی راپور ښیي چې شمېرې څنګه د ملت د ژوند له واقعیتونو سره تړاو لري. د نفوس د اټکلونو تر څنګ، د صادراتو او وارداتو کچه، د الکترونیکي تذکرو وېش، د آسان خدمت مرکزونو فعالیت، او د زېربنایي پروژو پلي کېدل، ټول د دې حقیقت هنداره ده چې احصائیه یوازې شمېرې نه دي، بلکې د خلکو د هیلو، ستونزو او راتلونکي د سفر نقشه ده.
د افغانستان ۳۶.۴ میلیونه وګړي یوازې د سرشمېرنې په جدولونو کې نه راټولېږي، بلکې هر یو یې د یو ژوند، د یو خوب او د یوې ننګونې استازی دی. هره تذکره چې وېشل کېږي، د هویت او حقونو د رسمي کولو مانا لري. هره پروژه چې پلې کېږي، د دولت د ژمنتیا نښه ده. او هر راپور چې خپرېږي، د شفافیت، عدالت او راتلونکي د روښانه کولو ځراغ دی.
نن زموږ هېواد د ځان بسیاینې، شفافیت او ښې حکومتدارۍ پر لور په داسې لاره روان دی چې هره پښه یې د احصائیې پر ډاډمنه ډبره ایښې ده. خو دا یوازې پیل دی. د راتلونکي لپاره اړینه ده چې د احصایې قانون جوړونه، د سرشمېرنې پراخ بهیر او د معلوماتو د عصري کولو پروسه په ملي لومړیتوبونو کې پاتې شي.
په پایله کې، که څه هم شمېرې ظاهراً بې‌روحه ښکاري، خو په حقیقت کې د هر رقم تر شا د میلیونونو انسانانو د ژوند، هڅو او هیلو غږ پروت دی. دا شمېرې د سبا د سیاستونو، پروژو او پرمختیایي تګلارو بنسټ جوړوي. نو ځکه، احصائیه او معلومات د یوه ملت لپاره یوازې وسیله نه، بلکې د باوري پرېکړو، د عادلانه پرمختګ او د روښانه راتلونکي کلیدي ضمانت دی.#

# پیام تسلیت امارت اسلامی در پیوند به شهادت افغان ها و آسیب...

...به تمامی ارگان‌های مربوطه امارت اسلامی دستور داده می‌شود که هرچه زودتر به مناطق آسیب‌دیده رسیده، در زمینه تدفین شهدا، درمان مجروحان و کمک‌رسانی به آسیب‌دیدگان از تمام امکانات موجود استفاده کرده و خدمات لازم را ارائه نمایند. همچنین از تمام افغان‌ها تقاضا داریم تا در بخش‌های تهیه سرپناه، غذا و پوشاک برای خانواده‌های آسیب‌دیده این فاجعه، کمک‌های خود را دریغ نورزند و وظیفه انسانی و اسلامی خویش را ادا کنند. از درگاه پروردگار متعال مسئلت داریم که مسلمانان را از چنین حوادث و آفات در آینده محفوظ بدارد.#

آمین یا رب العلمین

امارت اسلامی افغانستان

۱۴۴۷/۳/۸ هـ ق

۱۴۰۴/۶/۱۰ هـ ش. 2025/9/1

# دیدار معاون اداری رئیس‌الوزراء با سرکنسول افغانستان در دبی امارات متحده عربی

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرای با محترم عبدالرحمن فدا سرکنسول امارت اسلامی افغانستان در دبی امارات متحده عربی دیدار نمود.
در این دیدار، نخست محترم عبدالرحمن فدا، گزارشی از فعالیت ها، کارکردها و برنامه های کنسولگری متذکره و نیز وضعیت افغان های مقیم دبی به معاون محترم اداری ریاست الوزراء ارائه کرد.
وی با بیان اینکه کنسولگری افغانستان در دبی تمام تلاش شان را جهت حل مشکل و مسایل افغان های مقیم در دبی بکار می گیرند، گفت که طبق هدایت بزرگان امارت اسلامی، آنها برای گسترش و تحکیم روابط دو کشور در زمینه‌های مختلف، تمام سعی و تلاش شان را به کار می گیرند.
در مقابل محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء ضمن ابراز خوش آمدید به سرکنسول امارت اسلامی در دبی، خاطر نشان کرد که امارات متحده عربی و افغانستان به عنوان دو کشور مسلمان و دوست، دارای مشترکات زیادی اند و مسئولین دو طرف می توانند جهت تقویت و استحکام روابط در عرصه های اقتصادی، سیاسی و فرهنگی استفاده نموده و آن را ارتقا دهند.
معاون اداری ریاست الوزراء بر تعهد امارت اسلامی بر حمایت از افغان های مقیم امارات متحده عربی تأکید نمود و گفت که کنسولگری امارت اسلامی در دبی، تمام تلاش شان را جهت حل مسایل شهروندان افغان مقیم این کشور بکار گیرند.#

# د عزیزي انرژي ګروپ له لوري د لس زره مېګاواټه برېښنا تولیدي پروژې د لومړي فاز عملي چارې ژر پیلېږي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې د هېواد له ملي سوداګر او د عزیزي انرژي ګروپ شرکت له عمومي رییس میرویس عزیزي او د هغه له تخنیکي ټیم سره وکتل. د دې لیدنې پرمهال د میرویس عزیزي د لس زره مېګاواټه پروژې د چارو د پرمختګ راپور د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ته وړاندې کړ.
ښاغلي عزیزي وویل، د تفاهمنامې له لاسلیک وروسته یې خپل ټیمونه د اړوندو وزارتونو د تخنیکي ټیمونو سره یوځای بغلان، بلخ، جوزجان، هرات او بامیان ولایتونو ته ولیږل، چې د تېرو شاوخوا دوه اوونیو په جریان کې یې د یوشمېر پروژو ابتدایي سروې ترسره او تخنیکي معلومات یې راټول کړي دي.
نوموړي زیاته کړه، د لس زره مېګاواټه برېښنا د تولید پروژه یې په درېیو فازونو وېشلې ده، چې لومړی فاز یې د څلور زره مېګاواټه برېښنا ظرفیت لري.
د عزیزي انرژۍ ګروپ شرکت مسئولینو د معلوماتو پر اساس، په لومړي فاز کې د موجودو پروژو عملي چارې به له اړوندو وزارتونو او ادارو سره په ګډه ژر پیل کړي. ښاغلي عزیزي په دې اړه خپلې غوښتنې هم د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال سره شریکې کړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال او د اړوندو وزارتونو او ادارو مسئولینو د یادو غوښتنو د پوره کولو پوره اطمینان او ډاډ ورکړ.
د غونډې په پای کې د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هدایت پر اساس د اړوندو وزارتونو او ادارو او عزیزي انرژي شرکت له استازو څخه ګډه کمېټه جوړه او دنده ورته وسپارل شوه، څو د لس زره مېګاواټه برېښنا د تولیدي پروژو د کارونو تعقیب او نظارت ترسره او راپور یې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت له محترم مقام سره وخت په وخت شریک کړي.#

# عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د پوهنې وزارت مسئولینو ته لازمي لارښوونې او...

...کومک کوي، د هغه علم چې د الله پاک جل جلاله د معرفت، د دین او شریعت پېژندل پکې راځي، په قرآن کریم او حدیثو کې یې مدحه او فضیلت بیان شوی دی، علم او علماء د دنیا د بقا او د الله جل جلاله له عذابونو څخه د نجات ذریعه ده او د علم او عالم په برکت الله جل جلاله د ځمکې پرمخ فسادونه، بد اخلاقي او فحاشي ورک کړي دي.
عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی وویل، رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته علم په افعالو او اعمالو سره ورښوده رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به صحابه کرامو ته کوم څه ورښودل، هغه به یې په عمل کولو سره ورښودل او بیا به یې ورته وفرمایل: لکه څنګه چې مو زه ولیدم، داسې عمل کوئ. همداراز صحابه کرامو هم خلکو ته د علم ښودنه په عمل سره کوله او د خلکو د عقیدو او اخلاقو اصلاح یې ذهناً او فکراً کوله او د دوی عادت به یې جوړول.
عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی وویل، انبیاء کرامو علیهم الصلوة والسلام چې په کومه طریقه د خلکو لارښوونه کړې ده، علماء کرام دي هم په هغه ډول د خلکو لارښوونه وکړي. علماء کرام باید د انبیا کرامو علیهم الصلوة والسلام تقوا، صفتونه، خویونه، اخلاص، صبر او استقامت په ځان کې راولي او په عمل کې یې خلکو ته ښکاره کړي، تر څو خلک هم په دوی پسې اقتدا وکړي. عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د خپلې وینا په اخیر کې د سیمینار ګډونوالو ته له غفلت څخه د ځان ساتنې په اړه مهمې سپارښتنې وکړې او ویې ویل چې غفلت ډېر مهلک مرض دی، مسئولینو او غیر مسئولینو ته پکار دی چې په خپلو کارونو کې له غفلت څخه ځان وساتي، او د تعلیم او تربیې مسئولینو او استادانو ته یې په خطاب کې وویل، پر طالبانو او شاګردانو رحم وکړئ، مراقبت یې وکړئ، شاګردان مه پرېږدئ چې په عبثیاتو مشغول شي.
وروسته سیمینار نظام او خلکو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لخوا د دعاېې په لوستلو سره پایته ورسېد.#


# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مسلکي ډول د بلخاب ډبرو سکرو کان د استخراج...



...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد شمالي ولایتونو ته د خپل سفر پرمهال د سرپل ولایت په بلخاب ولسوالۍ کې په مسلکي ډول د بلخاب ډبرو سکرو کان د استخراج او د کانونو ترمنځ د نښلېدونکو سړکونو پرانیسته وکړه.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت د بلخاب ډبرو سکرو کان کې جوړو شوو مراسمو کې وویل، افغانستان د بېلابېلو طبیعي زېرمو له اړخه غني هېواد دی او دغه زېرمې د اوږدمهاله زېربنایي پروژو د تمویل، د صنعتي پرمختګ او د ملي عوایدو د سترې سرچینې په توګه له اساسي او ستراتیژیک ارزښت څخه برخمنې دي، چې په مسلکي استخراج سره به یې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ پر لور چټک ګامونه واخلو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، په هېواد کې له موجودو طبیعي زېرمو څخه د اعظمي استفادې په موخه باید یوازې د خامو موادو پر صادراتو اکتفاء ونه کړو؛ بلکې د هېواد دننه د پروسس او تولید فابریکې جوړې کړو ترڅو کاري فرصتونه زیات او داخلي صنعت قوي کړو.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د بلخاب ډبرو سکرو کاني حوزه د هېواد له مهمو او غني زېرمو څخه ده، چې د ملي پراختیا شرکت له لوري یې د استخراج پروسه تر دې دمه ښه روانه ده. هغه زیاته کړه، د ملي پراختیا شرکت د دغه کان د استخراجي چارو د تسهیل او تسریع په موخه له ۲۰۰ کیلومتره زیات سړکونه په معیاري توګه جغل اندازي کړي، چې د بلخاب ولسوالۍ د ډبرو سکرو کانونه یو له بل سره نښلوي. د هغه په خبره، په دې سره به کارګران او قراردادي شرکتونه د کان کیندنې چارو ته په سمه توګه رسېدنه وکړای شي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ملي پراختیا شرکت له هڅو مننه وکړه او له هغوی یې وغوښتل چې د استخراج چارې لا ډېرې معیاري، له هر ډول ضایعاتو څخه مخنیوی ترسره او د چاپېریال ساتنې معیارونه په پام کې ونیسي.
همداراز د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د بلخاب ولسوالۍ اوسېدونکو ته ډاډ ورکړ چې د دوی د اړتیا وړ د ډبرو سکاره به په کم قیمت دوی ته ورکول کېږي او همداراز به دوی ته د سړکونو، روغتونونو او نورو برخو کې هم ټولنیز خدمات لا زیات شي. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د سرپل والي او ځایي مسئولینو ته لارښوونه وکړه چې وخت په وخت د بلخاب له ولسونو سره ناستې وکړي، د هغوی ستونزې واوري او د حل هڅې یې وکړي.
د یادونې وړ ده چې د ملي پراختیا شرکت له لوري د بلخاب ډبرو سکرو د مسلکي استخراج لپاره شاوخوا ۱۰۰ صوفونه کیندل شوي، چې اوسمهال پکې له دوه زره زیات هېوادوال په مستقیم ډول په کار مصروف او په کلني ډول ترې ۵۰۰ زره ټنه سکاره استخراجېږي. له دې کان څخه استخراج شوي د ډبرو سکاره به په کورنیو فابریکو کې د انرژۍ تولید او د صنعت د پراختیا ترځنګ د هېواد واردات هم زیات کړي او د کاري فرصتونو په زیاتولو سره به د بېوزلۍ کچه راټیټه او په لویه کې به د هېواد اقتصاد ورسره پیاوړی شي.#

# مولوي ذبیح الله مجاهد: د ریاست الوزرا مقام لخوا زلزله ځپلو ته د عاجلې رسیدنې په موخه زر لکه افغانۍ...





...د دې ناستې په پیل کې، محترم مولوي ذبیح الله مجاهد، د زلزلې له امله د افغانانو د شهادت او زیانونو په اړه د اسلامي امارت د تسلیت پیغام ولوست. په دغه پیغام کې، شهیدانو ته د جنت الفردوس، ټپیانو ته د عاجلې شفا او خپلوانو ته یې د جمیل صبر غوښتنه شوې. دغه راز د اسلامي امارت اړوندو ارګانونو ته سپارښتنه شوې، چې د شته امکاناتو څخه په استفادې د زیانمنو هېوادوالو مرستې ته ور ودانګي.
محترم مولوي ذبیح الله مجاهد وویل: د ریاست الوزرا مقام لخوا پیښې ته د ښې رسېدنې لپاره د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزیر، محترم ملا محمد یونس اخندزاده په مشرۍ او د اړوندو ارګانونو د مسئولینو په غړیتوب، یوه ځانګړې کمېټه جوړه شوه. همدازار، زیانمنو ته د عاجلې رسیدنې لپاره د ریاست الوزرا مقام لخوا زر لکه افغانی ځانګړې شوي او د اړتیا په صورت کې به نورې پیسې هم ورکړل شي. محترم مولوي ذبیح الله مجاهد زیاته کړه: د ابتدایي معلوماتو له مخ، د تېرې شپې د زلزلې له امله، په کنړ ولایت کې ۸۰۰ تنه شهیدان او ۲۵۰۰ تنه ټپیان؛ ننګرهار ولایت کې ۱۲ تنه شهیدان او ۲۵۵ تنه ټپیان؛ لغمان ولایت کې ۵۸ تنه ټپیان او نورستان ولایت کې هم ۴ تنه ټپیان شوي دي. د نوموړي په وینا، د کورنیو چارو، ملي دفاع او عامې روغتیا وزارتونو، د یادو ولایتونو د والیانو او اړوندو ادارو له لوري د شهیدانو د رااېستلو، د ټپیانو د لېږد، د لومړنیو خوراکي او طبي توکو او نورو اړینو وسایلو د رسولو په برخه کې لازم اقدامات ترسره شوي دي. د دې خبري ناستې په ترڅ کې، د اسلامي امارتویاند له ټولو خیریه بنسټونو، سوداګرو او عامو افغانانو څخه غوښتنه وکړه چې له زلزله ځپلو هېوادوالو سره مرسته وکړي او په دې سختو شرایطو کې د هغوی لاس نیوی وکړي.
په پای کې، نوموړي ټینګار وکړ، چې د مرستو د ښه تنظیم لپاره ټولې مرستې باید د ټاکل شوې کمېټې لخوا تنظیم شي او مرسته کوونکي بنسټونه او هېوادوال دې هم خپلې مرستې د یادې کمېټې له لارې ترسره کړي.#

PANA
ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center
www.gmic.gov.af
Issue #80

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)
Contact Number:
+93 (0) 202100633
Email:
info@gmic.gov.af
Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

# Mujahid: One Billion AFN Allocated by the Prime Minister's Office for Immediate Relief to Earthquake Victims




At a press conference held at the Government Media and Information Center, Mawlawi Zabihullah Mujahid, Spokesperson for the Islamic Emirate of Afghanistan, briefed the media on the details of last night's earthquake.

At the outset, Zabihullah Mujahid conveyed the Islamic Emirate's message of condolences regarding the loss of life and damages caused by the earthquake. The message invoked prayers to Almighty Allah for the martyrs to attain paradise, for the injured to receive swift recovery, and for the bereaved families to be granted patience and resilience. Relevant government entities were directed to utilize available resources to expedite assistance to those affected.

Mujahid further announced that, following the instructions of the Prime Minister, a special committee has been established under the chairmanship of the Minister of Rural Rehabilitation and...ContP#4

# International Support Continues for Earthquake Victims in Afghanistan



Following the recent earthquakes in eastern provinces of Afghanistan, countries from the region and around the world continue to provide humanitarian aid.

Russia has delivered 20 tons of food supplies, Japan has provided 7 tons of non-food relief items, the European Union has contributed 130 tons of humanitarian assistance, and China has donated USD 200,000 in cash as part of the ongoing relief efforts.

All aid consignments are being handed over to the Special Committee for Disaster Response in the provinces of Kunar, Nangarhar, and Laghman...ContP#4

# Foreign Minister Calls on Diplomatic Missions to Mobilize Support for Earthquake Victims



The Minister of Foreign Affairs of the Islamic Emirate of Afghanistan, Mawlawi Amir Khan Muttaqi, held discussions with Afghanistan's political missions abroad regarding assistance for citizens affected by the recent earthquake in Kunar and neighboring provinces.

The Foreign Minister instructed all diplomatic missions to brief government officials, charitable organizations, and philanthropists in their respective host countries on the situation following the earthquake.

He further directed them to actively work toward mobilizing aid, facilitating the provision of essential relief supplies, and ensuring effective coordination and management of assistance. #

# Construction of the Fifth Phase of the Qaisar–Laman Road Continues



The Qaisar–Laman road, a key segment of Afghanistan's national ring road, is currently undergoing construction on its fifth phase, covering a distance of 25 kilometers under the supervision of the Ministry of Public Works. This road is designed with a width of 12 meters, including 7 meters of asphalted surface and 2.5-meter shoulders on each side. Within urban areas, the width expands to 20 meters, of which 8 meters are allocated for sidewalks and 12 meters for vehicular traffic...ContP#4

# Mujahid: One Billion AFN Allocated by the Prime Minister's Office for Immediate...



...Development, with the participation of officials from relevant agencies, to ensure an organized and effective response to the disaster. An allocation of one billion AFN has been designated for immediate relief, with additional financial support to be provided as needed.

Mujahid noted that the Ministries of Interior, Defense, and Public Health, along with provincial governors and relevant entities, have undertaken essential measures to recover the deceased, transport the injured, and deliver critical food, medical, and other supplies.

In conclusion, the spokesperson called upon charitable organizations, businessmen, and the citizens of Afghanistan to support the earthquake victims and ensure timely assistance. He emphasized that all aid should be coordinated and delivered through the established committee to maximize efficiency and impact. #

# Construction of the Qush Tepa–Darzab Connecting Road, Progressing Rapidly



The Ministry of Public Works has launched the construction of the Qush Tepa–Darzab connecting road with the aim of improving transportation services and addressing local challenges. The 51-kilometer road will extend from Qush Tepa district in Jawzjan province to Darzab district.

The project, valued at more than 1.5 billion AFN, is currently under implementation.

The project is divided into three sections:

Section One: From Nowabad to Taraghli, covering 19.8 kilometers, including the construction of two bridges and 26 culverts.

Section Two: From Taraghli to Shirbaik, covering 17.4 kilometers, including 54 culverts, 1,784 meters of retaining walls, and 498 meters of roadside drainage channels.

Section Three: Spanning 14 kilometers, including 48 culverts and 2,512 meters of retaining walls.

Construction activities across all three sections are currently in progress. Upon completion, the project will significantly reduce transportation difficulties for local communities, while enabling faster and safer movement of commercial goods and agricultural products. #

# International Support Continues for Earthquake Victims in...





...Nooruddin Turabi, Head of the National Disaster Management Authority, emphasized that the distribution of assistance is being carried out transparently and with official receipts.

Furthermore, the Embassy of China in Kabul announced that, beyond the USD 200,000 cash contribution made through the Red Cross Society of China, the country has pledged an additional 50 million yuan (equivalent to over USD 7 million) in support of the victims.

The Afghan Red Crescent Society welcomed the international contributions and reaffirmed that relief efforts for those affected by the earthquakes will continue. #

# Construction of the Fifth Phase of the Qaisar–Laman...

...Along this route, various infrastructure works are underway, including the construction of artificial structures measuring 60, 90, and 180 meters in length, 68 culverts, 270 meters of retaining walls, 1,220 meters of roadside drainage channels, concrete sidewalks on both sides of the road, and an additional 400 meters of concrete drainage channels and sidewalks on one side.

This project holds particular significance, as the Qaisar–Laman road forms part of the country's vital ring road network. In addition to creating employment opportunities for local residents during implementation, the road—once completed—will greatly facilitate passenger movement as well as the transportation of agricultural products and commercial goods. #

# Construction of the Third Ghori Cement Factory Officially Launched



Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, inaugurated the construction works of the third Ghori Cement Factory in Baghlan province.

In his remarks, the Deputy Prime Minister emphasized the importance of this project in strengthening domestic cement production and moving towards self-sufficiency in the sector. He stated that industrialization is a cornerstone of every nation's long-term objectives. Countries with diverse manufacturing industries not only meet domestic demand but also generate exports through surplus production.

Mullah Baradar further noted that industrial facilities play a vital role in boosting national production, increasing state revenues, and strengthening the overall economy. He stressed that with the commissioning of the third Ghori Cement Factory, a large portion of Afghanistan's cement demand will be met domestically. This will foster industrial growth, reduce foreign currency outflow, facilitate and accelerate construction activities, stabilize cement prices, create thousands of jobs, and mark a significant step toward building an industrial Afghanistan.

He highlighted that Afghanistan remains heavily dependent on imports, with a considerable portion of the national budget allocated to cover them. Imported goods, he said, are not only costly but also unreliable as sustainable supply sources. According to him, the establishment of domestic manufacturing plants such as the Ghori Cement Factory is a crucial step toward reducing reliance on imports and moving toward a self-sufficient, production-driven economy.

In conclusion, the Deputy Prime Minister called on the management of the Ghori Cement Factory to carry out construction works in full compliance with approved standards, with utmost integrity, and without any technical or operational negligence. It is noteworthy that the third Ghori Cement Factory will cost $86.8 million and will be implemented by the National Development Corporation (NDC) within 18 months. Upon completion, the factory will have the capacity to produce 5,000 metric tons of cement per day. #

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سالنگونو لويې لارې له کاري بهير څخه...



...بشپړ کړي.
د ټولګټو وزارت او قراردادي شرکتونو مسئولینو د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ته ډاډ ورکړ، چې د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره د سالنګونو لويې لارې کارونه دوام لري او ژمن دي، چې د روان کال لپاره پلان شوي کارونه به د ژمي تر را رسېدو مخکې بشپړ کړي. اوسمهال د سالنګونو لويې لارې د جنوبي سالنګ د ۱۰ مې تر ۱۵ مې ګالرۍ پورې د بیارغونې کارونه بشپړ شوي، چې په مجموع کې د جنوبي سالنګ کارونه ۵۵ سلنه پرمخ تللي دي.
په يادو تکمیل شوو ګالریو باندې په خورا لوړ کیفیت ۸۵ سانتي متره کانکرېټ اچول شوي دي. په ورته وخت کې د شمالي سالنګ د بیارغونې کارونه هم په چټکۍ سره روان دي.#

## تداوم کمک‌های بین‌المللی به زلزله‌زدگان...



...در پی زمین‌لرزه‌های اخیر در ولایت‌های شرقی افغانستان، کشورهای منطقه و جهان همچنان به ارسال کمک‌های بشردوستانه ادامه می‌دهند.
روسیه با ارسال ۲۰ تُن مواد خوراکی، جاپان با ۷ تُن مواد غیرخوراکی، اتحادیه اروپا با ۱۳۰ تُن کمک‌های بشری و چین با اعطای ۲۰۰ هزار دالر نقدی، بخشی از این روند را تشکیل داده‌اند.
تمامی این کمک‌ها به کمیته ویژه رسیدگی به حوادث در ولایت‌های کنر، ننگرهار و لغمان تحویل داده می‌شود. محترم نورالدین ترابی، رئیس اداره ملی مبارزه با حوادث، تأکید کرده است که تحویل‌دهی کمک‌ها به صورت شفاف و همراه با رسید انجام می‌گیرد.
همچنین سفارت چین در کابل اعلام کرده است که علاوه بر کمک نقدی صلیب سرخ چین به ارزش ۲۰۰ هزار دالر، این کشور متعهد به پرداخت ۵۰ میلیون یوان (معادل بیش از ۷ میلیون دالر) دیگر برای حمایت از آسیب‌دیدگان شده است.
جمعیت هلال‌احمر افغانی با استقبال از این کمک‌ها تأکید دارد که روند یاری‌رسانی به آسیب‌دیدگان زلزله همچنان ادامه خواهد داشت.#

## په کندوز کې د ۶.۳ میلیارده افغانیو په پانګونې د کندوز سپين زر سوداګريزو...

...مهم جز تشکیلوي. هغه زیاته کړه، د پانګونې له مخې په هېواد کې دننه د ناخالص تولید او صادراتو کچه زیاتېږي، صنعت وده کوي او په ټوله کې ورسره د هېواد عاید زیاتېږي چې دا پر ټولنیزه هوساینه مثبت تاثیر لري.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په کندوز ولایت کې د عامه خصوصي مشارکت له لارې د دريیو سوداګريزو ودانیو جوړېدل مهم وبلل او له اړوندو شرکتونو څخه يې وغوښتل، چې خپل فعالیتونه د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره په پوره صداقت او شفافیت ترسره کړي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اسلامي امارت له لوري ټولو سوداګرو او پانګوالو ته ډاډ ورکړ، چې ټولو ستونزو ته به يې په وخت رسېدنه کېږي او په ټولو برخو کې به ورسره لازمه همکاري کوي.
د يادونې وړ ده چې په دې پروژو کې د پنځه میلیارده او ۴۲۶ میلیونو افغانیو په پانګونې د سپين زر نړیوال سوداګريز مرکز چې په ۶۳ جریبه ځمکه د درېیو کلونو په موده کې جوړېږي، د ۳۰۰ میلیونو افغانیو په پانګونې د سیمسارۍ سوداګريز مارکېټ چې پر دوه جریبه ځمکه په یو کال کې او د ۵۷۶ میلیونو افغانیو په پانګونې د لوښو خرڅونې او برېښنايي سامان الاتو مارکېټ چې په دوه جریبه ځمکه په یو کال کې جوړېږي، شاملې دي.#

## د بهرنیو چارو وزیر د زلزله‌ځپلو لپاره د مرستو د جلب په اړه له...




...د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر، محترم مولوي امیرخان متقي، له هېواده بهر د افغانستان سیاسي استازولیو سره په کونړ او ننګرهار ولایتونو کې له زلزلې وروسته زیانمنو هېوادوالو سره د کېدونکو مرستو په تړاو خبرې وکړې.
د هیواد د بهرنیو چارو وزیر ټولو ديپلوماتيکو استازولیو ته سپارښتنه وکړه چې د خپل ماموریت په هېوادونو کې حکومتي مسئولینو، خیریه بنسټونو او اهل خیر وګړو ته له زلزلې وروسته د وضعیت په اړه معلومات وړاندې کړي او د مرستو د رسولو، اړینو اسانتیاو او ښه مدیریت په برخه کې هڅې وکړي.#

## د غوري سیمنټو د دريیمې فابریکې د جوړېدو...




...تولید او ملي عوایدو په لوړېدو او د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کې اساسي رول لري.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، د غوري سیمنټو د دريیمې فابریکې د تولید په پیل سره به د هېواد د سمینټو اړتیا لویه برخه په کور دننه پوره شي، صنعت به پراختیا پیدا کړي، له هېواد څخه به د اسعارو وتلو مخنیوی وشي، د ودانیزو چارو په تسهیل او تسریع او د سیمنټو په نرخ کې به ثبات رامنځته شي، ډېرو هېوادوالو ته به کار پیدا او په لویه کې به د صنعتي افغانستان پر لور مهم ګام واخیستل شي.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان تر ډېره پر بهرنیو وارداتو متکي دی او د ملي بودیجې زیات رقم هم د وارداتو په مقابل کې ورکول کېږي، په داسې حال کې چې له بهر واردېدونکي توکي له یوې خوا قیمته تمامېږي او له بلې خوا پایداره او ډاډمنه سرچینه نه ګڼل کېږي. د هغه په خبره، د هېواد په داخل کې د تولید دا ډول فابریکې کولی شي، چې په تدریجي ډول پر بهرنیو وارداتو د هېواد اتکا راکمه او د یو تولیدي افغانستان پر لور اساسي ګامونه واخیستل شي.
په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د غوري سیمنټو د دريیمې فابریکې له مسوولینو وغوښتل څو د يادې فابریکې چارې له منل شوو معیارونو سره سمې په پوره صداقت پرمخ بوځي او له هر ډول کاري او تخنیکي غفلت څخه ډډه وکړي.
د يادونې وړ ده چې د غوري سیمنټو پر دريیمې فابریکې ۸۶.۸ میلیون ډالر لګښت راځي چې د جوړېدو چارې به يې په ۱۸ میاشتو کې د ملي پراختیا شرکت له لوري بشپړې شي. د غوري سیمنټو فابریکه به د دې دريیمې فابریکې د چارو په بشپړېدو سره په ۲۴ ساعتونو کې د ۵۰۰۰ ټنه سیمنټو د تولید وړتیا پیدا کړي.#

## کار اعمار سرک اتصالی قوش‌تیپه – درزاب به ارزش بیش از ۱.۵ میلیارد افغانی به‌گونه...



...قرارداد احداث این پروژه با سه شرکت ساختمانی و سرک‌سازی به ارزش بیش از ۱.۵ میلیارد افغانی امضا شده و هم‌اکنون کار آن عملاً در حال اجرا است.
این پروژه به سه بخش، چنانچه، بخش اول از ساحه نوآباد تا ساحه تراغلی به طول ۱۹.۸ کیلومتر، شامل اعمار دو پایه پل و ۲۶ پایه پلچک؛ بخش دوم، از ساحه تراغلی تا ساحه شیربیک به طول ۱۷.۴ کیلومتر، شامل اعمار ۵۴ پایه پلچک، ۱۷۸۴ متر دیوار استنادی و ۴۹۸ متر جویچه کنار سرک؛ و بخش سوم، به طول ۱۴ کیلومتر، شامل اعمار ۴۸ پایه پلچک و ۲۵۱۲ متر دیوار استنادی، تقسیم شده است. کار عملی هر سه بخش هم‌اکنون در حال اجرا است. با تکمیل این سرک، مشکلات ترانسپورتی مردم تا حد زیادی برطرف شده و زمینه انتقال سریع و مصئون اموال تجارتی و محصولات زراعتی فراهم خواهد شد.#

## د تخار ولايت سپين زر سوداګريز ښارګوټي د جوړېدو چارې...

...محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هېواد کې د پانګونې ارزښت ته په اشارې سره وويل، په خدماتي او توليدي اساساتو کې پانګونه د هېواد د اقتصادي رشد او پراختيا له اساسي عواملو څخه ګڼل کېږي. هغه زياته کړه، پانګونه توليدي ظرفيتونه او صادرات زياتوي، صنعت ته پراختيا ورکوي، کاري فرصتونه رامنځته کوي او په ټوله کې ورسره د هېواد عايد زياتېږي.
د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په تخار ولايت کې د دې لوی سوداګريز ښارګوټي جوړېدل مهم وبلل او ويې ويل، چې دا به د هېوادوالو پر اقتصادي او ټولنيزه هوساينه مثبت اغېز ولري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اسلامي امارت له لوري ټولو سوداګرو او پانګوالو ته ډاډ ورکړ، چې ستونزو ته به يې په وخت رسېدنه کېږي او په ټولو برخو کې به ورسره لازمه همکاري کوي. د يادونې وړ ده چې د تخار ولايت سپين زر سوداګريز ښارګوټي کې د غله جاتو، ميوه جاتو، پياز او کچاليو، ساختماني توکو او درملو سوداګريز مارکېټونه په پام کې نيول شوي، چې ټولټال پرې د عامه خصوصي مشارکت له لوري دوه ميليارده ۴۵۰ ميليونه افغانۍ پانګونه کېږي. دغه ښارګوټی په ۶۰ جريبه ځمکه کې جوړېږي، چې د پنځو مارکېټونو له جملې يې د غله جاتو مارکيټ ګټې اخيستنې ته وسپارل شو او د پاتې څلورو مارکېټونو د جوړېدو چارې يې پيل شوې.
د تخار ولايت سپين زر سوداګريز ښارګوټی به په مجموعي ډول تر دوه زره زيات دوکانونه ولري، چې زرګونو هېوادوالو ته به کاري زمينه هم برابره کړي. همدارنګه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په تخار ولايت کې د خصوصي سکټور له لوري د موټرونو د خرڅلاو، موټرونو مينځلو، د نجارۍ دوکانونو او د ساختماني شرکتونو د دفترونو پروژې د جوړېدو چارو پرانيسته هم وکړه. پر دې پروژه ۱۸۰ ميليون افغانۍ پانګونه کېږي.#

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

# ارگ نامه


صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## کار اعمار لات پنجم سرک قیصار – لامان ادامه دارد




سرک قیصار – لامان بخشی از سرک حلقوی افغانستان است که وزارت فواید عامه کار احداث بخش پنجم این سرک را به طول ۲۵ کیلومتر آغاز کرده است.
این سرک ۱۲ متر عرض دارد که ۷ متر آن اسفالت و در دو طرف آن شانه‌هایی به عرض ۲.۵ متر ساخته می‌شود. در داخل شهرها، عرض سرک به ۲۰ متر افزایش می‌یابد که ۸ متر آن برای پیاده‌رو و ۱۲ متر دیگر برای رفت‌وآمد وسایط اختصاص دارد.
در امتداد این سرک، اعمار تأسیسات مختلف شامل، ساختمان‌های مصنوعی به طول‌های ۶۰، ۹۰ و ۱۸۰ متر، ۶۸ پایه پلچک، ۲۷۰ متر دیوار استنادی، ۱۲۲۰ متر جویچه کنار سرک، پیاده‌روهای کانکریتی در دو طرف سرک، و ۴۰۰ متر جویچه و پیاده‌رو کانکریتی در یک طرف سرک، در حال انجام است.
این پروژه از اهمیت ویژه برخوردار است، زیرا سرک قیصار – لامان جزئی از سرک حلقوی کشور به شمار می‌رود. با پیشرفت کار، برای شماری از باشندگان محل زمینه کار فراهم شده و پس از تکمیل، این سرک در رفت‌وآمد مسافران و انتقال محصولات زراعتی و اموال تجارتی سهولت‌های بیشتر ایجاد خواهد کرد.#

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سالنګونو لويې لارې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سالنګونو لويې لارې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه.
د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د ټولګټو وزارت او قراردادي شرکتونو له ترسره شوو کارونو ستاينه وکړه او هغوی ته يې سپارښتنه وکړه، څو د کيفت په پام کې نيولو سره د ژمي تر را رسيدو مخکې د دغه مهمې لارې پاتې کارونه هم...

۵

## په کندوز کې د ۶.۳ ميليارده افغانيو په پانګونې د کندوز سپين زر سوداګريزو مارکېټونو د جوړېدو چارې پيل شوې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کندوز ولايت کې د کندوز سپين زر سوداګريزو مارکېټونو د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه.
د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په لومړي سر کې په مشرقي ولايتونو کې د تېرې شپې د زلزلې له امله شهيدانو ته د جنت او ټپيانو ته د عاجلې شفاء دعا وکړه او د هغوی کورنيو ته يې تسليت وړاندې کړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ځان له زلزله ځپلو کورنيو سره په دې غم کې شريک وباله او ويې ويل، د اسلامي امارت ټول اړوند مسئولين لاس پکار دي او له ټوله امکاناتو څخه په کار اخيستو يې د پېښې سيمو ته رسېدنه کړې ده.
ورپسې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د کندوز سپين زر سوداګريزو مارکېټونو د جوړېدو چارو پرانيست‌غونډې ته وويل، د عامه سکتور ترڅنګ د خصوصي سکتور له لوري په هره کچه پانګونه د هېواد د اقتصادي ودې...

۵

## کار اعمار سرک اتصالی قوش‌تیپه – درزاب به ارزش بیش از ۱.۵ میلیارد افغانی به‌گونه سریع جریان دارد



وزارت فواید عامه به‌منظور ایجاد سهولت‌های بیشتر ترانسپورتی و رفع مشکلات مردم، احداث سرک اتصالی قوش‌تیپه – درزاب را آغاز کرده است. این سرک به طول ۵۱ کیلومتر از ولسوالی قوش‌تیپه ولایت جوزجان تا ولسوالی درزاب امتداد می‌یابد...

۵


## د غوري سيمنټو د درېيمې فابريکې د جوړېدو چارې پيل شوې



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په بغلان ولايت کې د غوري سيمنټو د درېيمې فابريکې د جوړېدو چارو د پيل پرانيسته وکړه.
د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په هېواد کې دننه د سيمنټو توليد او په دې برخه کې خودکفايي ته د رسېدو لپاره د دې فابريکې پرانيستل مهم وبلل او ويې ويل، صنعتي کېدل د هر هېواد د لويو اهدافو په سر کې قرار لري؛ هغه هېوادونه چې په مختلفو برخو کې توليدي فابريکې لري، نه يوازې په کور دننه د هېوادوالو اړتياوې پوره کوي؛ بلکې د اضافي توليد له امله صادرات هم کوي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، توليدي فابريکې د هېواد د ملي...

۵

## د تخار ولايت سپين زر سوداګريز ښارګوټي د جوړېدو چارې پيل شوې



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په تخار ولايت کې د تخار سپين زر سوداګريز ښارګوټي د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په لومړي سر کې په مشرقي ولايتونو کې د تېرې شپې د زلزلې له امله شهيدانو ته د جنت او ټپيانو ته د عاجلې شفاء دعا وکړه او د هغوی کورنيو ته يې تسليت وړاندې کړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ځان له زلزله ځپلو کورنيو سره په دې غم کې شريک وباله او ويې ويل، د اسلامي امارت ټول اړوند مسوولين لاس پکار دي او له شته امکاناتو څخه په کار اخيستو يې د پېښې سيمو ته رسېدنه کړې ده.
ورپسې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د تخار ولايت د سپين زر سوداګريز ښارګوټي د جوړېدو چارو پرانيست‌غونډې ته وويل، د عامه سکتور ترڅنګ د خصوصي سکتور له لوري په هره کچه پانګونه د هېواد د اقتصادي ودې مهم جز جوړوي او د افغانستان اسلامي امارت يې ملاتړ کوي...



۵